# قيامت به تر هغه پورې نه قائمېږي، تر څو چې خلک په خپلو کې سره په جوماتونو جوړلو کې سيالي ونه کړي

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: «قيامت به تر هغه پورې نه قائمېږي، تر څو چې خلک په خپلو کې سره په جوماتونو جوړلو کې سيالي ونه کړي».
[صحيح دی] [ابو داود، النسائي او ابن ماجه روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي چې د قيامت د ورځې د نږدې کېدو له نښو څخه يوه دا ده چې خلک به د جوماتونو په جوړولو کې د ښکلا او آرايش پر سر يو پر بل فخر کوي، يا به په جوماتونو کې د دنيوي چارو په اړه فخر کوي، په داسې حال کې چې جوماتونه يوازې د الله د يادونې لپاره جوړ شوي دي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/10897

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee